مسئوليت متن و شکل بدوش نويسندهٔ مضمون ميباشد، عقيدهٔ نويسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاين نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۱/۱۱/۳۰

د افغانستان سياسی او تأريخی ژورنال

دويم ټوک

شپېتمه برخه

فراه

او

د افغانستان سويلي برخې

تصحيحات

ډاکټر لوډويک . ډبيلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973

لودويک آدمک

قلعـهٔ سبز: شنـهٔ کلا: ۳۳ ـ ۳۰ ، ۳۴ ـ ۶۳: د هلمند د سيند پر ښی غاړې (د ګرمسيل په ولسوالی کې) د خانشين مقابل لوري ته يوه ورانه ويجاړه کلا ده. (بيلو). دا کلی اوس پښتو نوم لري چې د «شنې کلا» په نامـهٔ يادېږي.

قلعـهٔ سعادت: سادات: ۴ ـ ۳۲، ۲۷ ـ ۶۴: د ګرشک د شمال لويديځ په ۱۸ مايلی کې او د نوزادو د سويل لويديځ په ۲۰ مايلی کې يوه زړه ورانه ويجاړه کلا ده چې پخوا د محمد حسين خان استوګنځای وو. دا کلا د ځمکې پر سطحه واقع ده او د څنګ شاوخوا ته ئـې نـهٔ کومه غونډۍ او نـهٔ کومه لوړه سطحه سته. دا کلا څلور ګوټه ده (خو مربع نـهٔ ده) چې ګرد چاپيره ئـې د ۲۵ فيټو په لوړوالي ديوال راتاو دی او د ديوال بيخ له ۹ تر لس نيم فيټو پورې پرېږ دی. دا ديوال په خپل اوږدوالـهٔ کې بل سنجي ديوال او په ډډو کې ئـې خاکريز لري خو دواړه ديوالونه اوس اوبو وړي دي يوازينی ځای چې ددغو ديوالونو نښې په ځان کې لري د ديوال سويل ـ سويل ختيځ مخ دی. د کلا په هر ګوټ کې يو کثيرالاضلاع ډوله مورچل ځای سته او هم د هر مخ په منځ کې ئـې دا ډول مورچل سته خو د لويې دروازې په ډډو کې دوه مورچلونه دي چې دروازې ته جناحي مدافعه ورکوي. د کلا له ديواله دباندې د ۲۰ ګامونو په اندازه ليرې تر ټولې کلا راتاو د خندق را کيندل سوي خاورې دي او د مدافعوي ديوال په ډول لوړې سوې دي او شيوه توب ئـې د باندې خوا ته تللی دی، خو له دننه جوړ سوی دی او په هماغو لومړيو کې ئـې له پاسه د ۱ تر يو نيم فيټو پورې لوړ ديوال جوړ کړی وو او د کلا ګردچاپيره ځغليدلی وو، خو دا تقريباً اوس په بشپړ ډول ورک سوی دی. دلته هم د کلا د ديوالونو په شان په هر ګوټ کې يو سنګر جوړ سوی دی او د هر مخ په نيمايي کې ئـې يو کوچنی مربع ډوله برج جوړ سوی دی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خندق په پاسنۍ برخه کې ۱۸ فیټه او په بیخ کې ۶ فیټه پسور لري، داسې بې قاعدې سوی دی لکه چې باران وړی وي. خندق د کلا د دروازې مقابل لوري ته په یوې ترادې په متقاطع ډول تیر سوی دی چې دواړو خواوو ته ئـې مورچلونه جوړ کړي دي او دلته د دیوالونو د نښو شتون وایي چې دا د محافظینو کوټې وې چې په لومړیو کې ئـې تیرکښونه درلودل.

د کلا مورچلونه د دروازې له پاسه دي، یوۀ ته ئـې ختل آسانه دي او بل ته ئـې سخت دي خو له دننه خوا وران ویجاړ دي او له دننه ورته ختل نا شوني دي. په کلا کې دننه ودانۍ یا کوټې ټولې ئـې لږ و ډېر ورانې ویجاړې دي؛ خو یو شمـېـر په داسې حالت کې هم سته چې په لږ ترمیم سره د ژوند کولو دي، نورې ئـې د کار نـۀ دي.

گومان کـېـږي چې دا ځای د برید له اړخه له ډېـر سرخوږي او ربړ پرته ددفاع وړ نـۀ دي. ددیوالونو پاسنۍ برخې په مدافعینو نـۀ سي ساتل کـېـدای ځکه د هغو لپاره نـۀ موقعیت لري او نـۀ د مدافعي ځای. د مورچلونو سرونه اضافي تدافعي ځای نـۀ لري او ستر او اخفا ورته نـۀ سي برابرولای. د کلا اساسي دیوالونه، تیرکښونه یا مورچلونه نـۀ لري او یوازینۍ لاره چې کـېـدای سي له دیوالونو څخه مدافعوي اور وکړئ مجبوره یاست چې تیر کښونه په کې وباسي (دا چنداني آسانه کار نـۀ دی)، او بل دا چې مدافعینو ته باید ددرېـدلو ځایونه هم جوړ سي چې ورڅخه اور وکولای سي. بیت (۱۸۹۳ز) وایي: یوازیني استوگن وگړي چې ما دغه ځای ته نـېـږدې وموندل د څو گوتو په شمار عرب کوچیانې کورنې وې. د کلا په شمالي او سویلي برخو کې بڼونه اوس په دولت اړه لري او هغه هم د نړیدلو په حال کې دي. دلته یوه د اوبو ژرنده ده هغه هم له کاره لویدلې ده او یو څه کرهنه سته چې هغه هم د څارویو د خوراک لپاره ده. سون لرگي په نست دي. ویل سوي چې شاو خوا سیمې په هوسیو او غرڅو ډکې دي. یوۀ کوچي عرب راته وویل چې دی هر کال نیږدې ۲۰۰ هوسۍ ښکار کوي او د پُشتِ رودِ حاکم راته وویل چې د امیر د امر د پلي کولو سره سم مې یوازې پروسږکال کابل ته د هوسیو ۵۰۰ پوستکي واستول. (سندرز، مکولم سن. بیت.)

سادات کلا کې اوس هیڅ شی نـۀ سته یوازې یوه کنډواله کلا ولاړه ده او له دې ځایه اړتیا توکي نـۀ سي ترلاسه کـېـدای. خو لږ شمـېـر سون توکي په کې موندل کـېـږي او د اوښانو څر ځایونه لري. (بومي معلومات، ۱۹۰۳)

قلعـۀ شریف خان: د شریف خان کلا: ۱۰ ــ ۳۰ ، ۴۲ ــ ۶۲: یوه عصري کوچنۍ کلا ده چې برجونه نـۀ لري. دا کلا د هلمند پر غاړه له لنډي بریڅ څخه ۵ مایله کښته واقع ده. دا کلا د افغان او بلوڅ د پولې ترمنځ نښه ده. لږ ورکښته ئـې د بلوڅانو ځمکه ده، خو بیا هم د افغان بزگرانو او کارگرانو یو شمـېـر په کې سته. خو د ځمکو د مالکیت حق له دې ځایه تر تختِ رستم پورې د بلوڅ قومونو او سردارانو په لاس کې دی. (مرک)

قلعـۀ شندو خان: د شندو خان کلا: ۳۸ ــ ۳۲، ۴۲ ــ ۶۴: د نوزادو په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې په تیزنای تگاو کې له همدغـۀ کلي څخه ۲ مایله یعنې له کوز کلي څخه پورته واقع ده او د نورزیو ۴۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (صاحبداد خان)

قلعـۀ سُرقت: شورتک ۱ ــ ۳۲، ۲۳ ــ ۶۴: د یوې غونډۍ پر سر د یوې کوچنۍ کلا کنډوالي دي چې په نوزادو کې د سادات د کلا د لویدیځ په ۷ نیم مایلۍ کې واقع ده. دا سیمه له سینده خړوبیږي او د غونډۍ ختیځې او لویدیځې ډډې ئـې را شیوه سوي دي. د غونډۍ له سره یو پراخ منظر کتلای سئ. (میتلند)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

قلعهٔ سُرخاک: ۱۹ ـ ۳۲ ، ۲۴ ـ ۶۴: د نوزادو د سویل په ۸ مایلی کې یو کلی دی چې د الکوزیو ۲۵ کورنۍ په کې استوګنې دي. (صاحبداد خان) *د قلعهٔ سُرخ په نامهٔ یو بل ځای په چهار برجک کې په ۵۶ ـ ۳۰، ۱۲ ـ ۶۲ کې واقع دی؛ او بل ئې په ۴۱ ـ ۳۲، ۱۵ ـ ۶۲ کې موقعیت لري.*

کلانتر: وګورئ: داد خدا

قلعهٔ خون کلات: یا: کهنه کلا: ۹ ـ ۳۰ ، ۴۰ ـ ۶۲: د هلمند د سیند پر کیڼې غاړې باندې د رودبار د ختیځ په څلور مایلی کې یو کوچنی کلی دی چې د (سنجراني بلوڅانو) ۱۵ کورونه په کې دېره دي او ټول ئې ۷۰ وګړي کېږي. دغهٔ کلي کې ۷۰ سره کورني څاروي، ۱۰۰ پسونه او وزې او ۲۰ اوښان سته. کرنیزه ځمکه ئې ۴ قلبې ده چې هره قبله ئې ۱۸ خرواره کلنی حاصل کوي. دا کلی په هماغه کانال اوبهٔ کېږي چې پولالک او لنډی بریڅ خړوبوي. ددې کلي وګړي هم په پښتو او هم په بلوڅي خبرې کوي. (ایس. ایم. ونلیس. ۱۹۰۳) *داسې ښکاري اوس د کهنه کلا په نامهٔ یادېږي.*

قلعهٔ سیدان: ۷ ـ ۳۲ ، ۱۶ ـ ۶۲: د فراه او د بکوا ددښتې تر منځ یو کلی دی.

قلعهٔ سویا: ۶ ـ ۳۲، ۱۵ ـ ۶۲: قلعهٔ سیدان ته نېږدې یو کلی دی.

کلاته: ۴۱ ـ ۳۲، ۵۹ ـ ۶۴: د زمینداور د باغني په علاقه داری کې یو کلی دی او ویل سوي چې ۴۵ کورنۍ په کې ژوند کوي. (صاحبداد خان). *همدا شان د انار دري سویل لویدیځ ته د کلاتهٔ عالم خان په نامهٔ ځای سته (صاحبداد خان) چې په ۳۵ ـ ۳۲، ۳۴ ـ ۶۱ کې موقعیت لري؛ او د دوست آباد د شمال په ۲۱ مایلی کې کلاته په ۳۴ ـ ۳۲، ۳۳ ـ ۶۱ کې موقعیت لري.*

کالوزي: ـــ ۳۲ ، ـــ ۶۴: په زمینداور کې یو کلی دی او ویل سوي چې د علیزیو ۳۰ کورونه په کې ژوند کوي (صاحبداد خان)

کمبالدي: ۴۶ ـ ۳۱ ، ۵۰ ـ ۶۲: ویل سوي چې د خاش د شمال په ۱۳ مایلی کې یو کلی دی. *زړې نقشې ئې د کالي بالدي پهٔ نامهٔ ښیي.*

کامران: ۵۳ ـ ۳۰ ، ۴۷ ـ ۶۱: لوړوالی: ۱۸۲۲ فیټه. د هلمند د سیند پر ښی غاړه له چهاربرجکه ۵۱ مایله کښته د سړک پر غاړه یو کلی دی. استوګن وګړي ئې بلوڅان دي. په دې چم ګاونډ کې پسونه او کورني څاروي بې شماره دي او دېره کرهنه دلته سوې ده. دِهٔ کامران د شاري خان، ناهوري د ځمکو د حد پوله وه؛ له پادشاه سلطانه څلور نیم مایله ها خوا د پیر روشان زیارت دقیقاً هاغه ټکی دی چې ددهٔ د مالکیت سیمه پای ته رسوي، خو په عمل کې دِهٔ کامران د چخانسور د سیمې پیل وو چې پخوا د ابراهیم خان په لاس کې وو. (پیکاک،مِرک)

کاني: ۲۰ ـ ۳۲، ۱۵ ـ ۶۴: په نوزادو کې یو کلی دی چې د اسحاقزیو ۳۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (صاحبداد خان). دا کلی د نوزادو د سویل لویدیځ په ۲۱ مایلی کې دی.

کـَـنـَـسک: ۲ ـ ۳۲، ۱۹ ـ ۶۲: د فراه د شمال ختیځ په ۱۶ مایلی کې د فراه رودِ پر غاړه یو کلی دی. (ای. بي. سي)

کندالو ناور: ۲ ـ ۳۰ ، ۱۷ ـ ۶۳: له ګرګروک او چګای څخه تر خواجه علي پورې پینځمه ددمې نیولو ځای دی. دا ځای د ګرمسیل د سویل په ۳۰ مایلی کې دی.

کند ګز: د خواجه رُباط لوړې ته نېږې د هلمند د څانګې د سیخ سر د ختیځ په څو مایلی کې یو کلی دی. دلته د اړتیا وړ توکي ناکافي دي. د اوبو لګولو له کانالونو څخه اوبهٔ ترلاسه کېدای سي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

* **کنسک او شاخِ کنسک**: وګورئ: کنسک: ۲ ـ ۳۲، ۱۹ ـ ۶۲

***کنګ**: وګورئ: قلعـهٔ کنګ: ۶ ـ ۳۱، ۵۲ ـ ۶۱

* **کنګِ دین محمـد**: ۵۴ ـ ۳۰ ، ۴۸ ـ ۶۱: د هلمند په خولـهٔ کې د زرنج په سویل کې څو کلي دي.

کاني: وګورئ: لپي کاني

کودي ګز: وګورئ: سیخ سر

کاروان ګاه: وګورئ: کاروان قاضي: ۳۳ ـ ۳۲، ۶ ـ ۳۶

کرباسک: کربسک: ۷ ـ ۳۰ ، ۳۷ ـ ۶۲: له رودباره یو نیم مایله پورته د هلمند د سیند پر کیڼي غاړې یوه کندواله کلا ده. دا کلا د یوې ناکرل سوې ځمکې په لمنه «دامان» کې واقع ده، او باید د سړک د بندولو لپاره جوړه سوې وي، ځکه دغـهٔ ځای کې دره ډېره تنګه ده او سیند ورڅخه چنداني لیرې نـهٔ دی. ددې کلا دقیق نوم کرباسُک دی خو په عامه ژبه کې ئـې خلکه «قلعـهٔ کهنه» (زړه کلا) بولي. (میتلند)

په ۱۹۰۳ز کال کې ونلیس دلته د ۴۰ تنو وګړو یو کوچنی کلی وموند. دوی سنجراني بلوڅان ول چې ۳۰ کورني څاروي، ۸۰ پسونه او وزې او ۱۹ اوښان ئـې درلودل. کرنیزه ځمکه ئـې ۲ قلبې ده چې په ټوله کې ۲۸ خرواره حاصل کوي.

د کلي ملک ئـې اعظم خان نومـېږي. ددې کلي استوګن وګړي هم په پښتو او هم په بلوڅي خبرې کوي. (ایس. ایم. ونلیس ۱۹۰۳)

کاریز: ۲۴ ـ ۳۲، ۲۸ ـ ۶۱: دا یوه دښته ده چې د لاش جوین ـ تختِ رستم سړک د تخت رستم د شمال لویدیځ په ۵ نیم مایلی کې ورننوځي. ددې ځای لوړوالی د «نیزار» له سطحې څخه ۱۰۰ فیټه لوړ دی او ورڅخه د ۱ په ۲۵ کې ثابت لوړوالی نیسي. هغه لوړه سطحه چې ددې ځای ختیځ ته ښایسته وړاندې غځـېدلې د «دانــهٔ کادي» په نامـهٔ یادېږي. (میتلند)

* **کاریزک**: وګورئ: کاریز: ۲۴ ـ ۳۲، ۲۸ ـ ۶۱

کاریز: که د فارسي اضافت په کاریز پسې بل نوم ته ورکړل سي نو د دویم نوم مشخصات وربانديِ روښانیږي.

کارګی رود: ۰۰ ـ ۳۲، ۲۵ ـ ۶۲: د خُرمالیق د ختیځ په ۲ مایلی کې د فراه ـ دلارام له سړکه تـېرېدونکي یوه ناله ده، ښایي د خوسپاس د رودِ پورتنی برخه وي. (آی. بي. سي.)

کریم خان: وګورئ: خاشرود

کریم کشته: وګورئ: سیخ سر

کریم کشته: وګورئ: داد خدا

کریم کشتو: وګورئ: قلعـهٔ کنګ

کاروان ګاه :وګورئ: کاروان قاضي: ۳۳ ـ ۳۲، ۶ ـ ۶۳

کاروان قاضي: ۳۳ ـ ۳۲، ۶ ـ ۶۳: دا هغه ځای دی چې کانولي د ګرشک د شمالي سړک د شرحې په لړ کې، له سبزواره «شیندند ـژ» تر هرات پورې لاره کې یاد کړی دی. دا د «توتِ کسرمن» او لاجورکاریز (لارجورد کاریز ـ ژ) له منځه مخکې له دې چې لاجور کاریز ته ورسیږي د هغـهٔ په ۴ مایلی کې دی. کانولي وایي چې دهٔ ولیدل چې دې سیمې کې نورزیو (په اکتوبر کې) مالوچ او ختکي کرل او ځمکه ئـې د درویو کوچنیو کاریزونو په مرستې خړوبیدله.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کـېـدای سي دا هماغه ټکی وي چې سندرز د کاریز په نامـۀ مخکې له دې چې دره تنګه سي په نښه کړی وو، او سړک هغـۀ کوټل ته ننوځي چې ددې ځای او کسرمن له منځه تېـرېږي. (کانولي. آی. بي. سي.)

کاروان ریز: ۵۴ – ۳۱، ۳۴ – ۶۱: یوه لوړه سطحه یا د پلنې دښتې برخه چې د فراه او لاش جوین ترمنځ د فراه روډ د کرېدلو په ختیځ کې واقع ده. (آی. بي. سي.)

کارویز: ۴۹ – ۳۱ ، ۳۳ – ۶۱ :د لاش جوین – سبزوار د سړک په کینه خوا کې یوه دښته ده. ددې پلنې دښتې یوه راوتلې برخه د لاش جوین د شمال په ۵ مایلی کې هغه مهال تـېـرېـږي کله چې سړک د فراه روډ پر ښی غاړه ورخـېـږي، دا سړک د یوې لوړې سطحې له منځه په یوې تنګې درې کې پرمخ ځي، دا لوړه سطحه د لاش جوین په شمال کې ددښتې پوله جوړوي. (میتلند). اوسنی نقشې د کاریز په نامـۀ یو ځای ښیي چې د لاش جوین د ختیځ په یو مایلی کې په ۴۳ – ۳۱، ۳۸ – ۶۱ کې واقع دی.

کاش: وګورئ: خاش: ۲ – ۳۰ ، ۵۲ – ۶۳

کـِشتي: ۵۶ – ۳۰ ، ۶۴ – ۱۰: د هلمند د سیند پر کینې غاړې باندې د هزار جفت او میان پُشتې تر منځ یو کلی دی. (آي. بي. سي.)

نوربیا

کیاني: دا د یوۀ قوم نوم دی چې...

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ